مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

ذبیح الله خورشیدی ۲۰۱۸/۰۱/۳۱

د کابل د خونړیو بریدونو عوامل

د حکومت بهرنی سیاست له دې امله د ستایلو وړ دی چې ولسمشر غني په لومړي ځل په سیمه کې ګډ ګوابنونه او ګډې ګټې سره مشترکې کړې.
دا په بهرني سیاست کې یو لوی او بریالی بدلون وه چې اوس په سیمه کې هر بدلون او تحول د افغانستان سره په همغږۍ رامنځ ته کېږي.
په دې مانا چې افغانستان خپله په سیمه کې د یو مهم لوبغاړي په توګه کار کوي چې د پاکستان ، ایران ،چین او نورو هېوادونو د شومو اهدافو لپاره یې کار سخت کړی دی.
په کابل کې وروستي خونړي بریدونه د څو اړخونو مهم دي؟
لومړی : کله چې د افغانستان او سیمې په تړاو د امریکا او غرب تګلارې بدلې شوې او پاکستان داخل په کې د کلک فشار لاندې نیول شوی اسلام اباد غواړي د فشار کمولو لپاره په افغانستان کې د مشخصو اهدافو لپاره فضاء خونړۍ کړي.
کله چې له ۷ کلونو وروسته کابل ته د امنیت شورا پلاوی سفرکوي دا پاکستان ته په سیاسي لحاظ د زغم وړ نه و ، ځکه چې نړۍ د پاکستان په لوبې اوس ډېره ښه پوه شوې.
پاکستان له دې زیاته وېره درلوده چې په افغانستان کې د دوی د لاس وهنې شواهد به امنیت شورا سره شریک شي.
نو ځکه د پلاوي له تګ دوه درې ورځې وروسته په انټر کانټینینټل هوټل وسلوال برید و شو.
له دې خونړي برید یوه اونۍ وروسته صدارت څلور لاره کې موټر بم برید هغه هم په یوه ډیپلوماتیکه سیمه کې چېرته چې اروپایي اتحادي دفتر هم دی.
دویم: پاکستان د نړیوالو د فشار لاندې دی او افغانستان اوس په نړیواله کچه ښه موقف لري دلته زیاته هڅه همدا شوې چې دا نړیوال باور مات شي.
درېیم : نږدې ورځو کې د کابل پروسې کنفرانس جوړېدونکی دی چې د نړۍ او سیمې د مهمو هېوادونو استازي به په کې برخه واخلي دلته پاکستان وېره لري چې د نړۍ ذهنت او باور به د دوی پرخلاف زیات شي.
څلورم : طالبان او داعش دواړه د پاکستان د سخت فشار لاندې دي.
پاکستان غواړي هم طالبان او هم داعشیان د حکومت او نړیوالې ټولنې پرضد لا ډېر تحریک کړي.
د دې لپاره چې د اسلام اباد او واشنګټن ترمنځ مزاکراتو کې پاکستان له یوې خوا زیات امتیاز واخلي او له بلې خوا نړیوالې ټولنې او افغان حکومت ته زور وښیي.
پنځم بدلون د سولې غیر رسمي خبرې وې چې د پاکستان له مېز لرې د ترکې او چین په مېز جوړې شوې.
دلته پاکستان رول له پخوا زیات تت و.
پاکستان د خپل دام په لومه کې راګیر شوی و نو ځکه د خبرو په جریان کې په اتومات ډول د تاوتریخوالي کچه زیاته شوه.
پاکستان له دې سره په افغان حکومت د خلکو باور راټیټ کړ او له بل پلو یې نړۍ وال وننګول که له دوی سره مرستې نه کېږي نو په سیمه کې به د امریکا ګټې د خطر سره مخ کېږي.

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ